GOUVERNEMENT

*Liberté*
*Égalité*
*Fraternité*

Délégation interministérielle
à l'accueil et à l'intégration
des réfugiés

# د مهاجرت اسنادو درلودونکو کسانو لپاره معلوماتي لارښود

## د عمومی بانکي حساب پرانیستل

**د لارښود اجرا کېدل**

د یو بانکی حساب پرانېستل ستاسو په ژوند او په فرانسه کې د ادغام لپاره اسانتیاوې روامنځته کوي: د بانکی حساب درلودل د کار په ډګر کې، دوامداره استوګنځي ته لاسرسي لپاره او همداراز د ټولنیزو یا سوسیالی مرستو د ترلاسه کولو لپاره ډېر اړین دي.

دا معلوماتی کتابچه تاسو ته دا وضاحت درکوي چې څنګه کولئ شئ په فرانسه کې په یو بانک کې حساب پرانېزئ، او یا هم که چېرې کوم بانک تاسو د حساب د پرانېستلو څخه انکار وکړي، څنګه کولی شئ د فرانسې ملی بانک پر وړاندې خپل د « بانکی حساب درلودلو حق » ترلاسه کړئ.

دا کتابچه د د خزانې عمومی ریاست (د اقتصاد ، مالیې او بیا رغونې وزارت)، د فرانسې ملی بانک، په فرانسه کې د مېشتو بهرنیو وګړو عمومی ریاست (د کورنیو چارو وزارت)، د فرانسې د مهاجرت او د ادغام دفتر، او د ټولنو په همکاری لکه کوالیا او ویلتایس سره اجرا شوه.

دا کتابچه معلومات راټولوي، او بیا په ځانګړې توګه تنظیمي او قانونی معلومات، چې دمخه پېژندل شوي خو دې معلوماتو ته بیا جدي بڼه ورکول کیږی.

3e version – novembre 2023

# عمومي بانکي حساب

### ولې باید عمومي بانکي حساب پرانېستل شي؟

دا چې جمع حساب په نوم هم یادیږي، د عمومی بانکی حساب له لارې کولی شئ **پیسې ترلاسه کړئ** (تنخوا، ټولنیزې مرستې او داسې نور) او کولی شئ د همدې حساب له لارې د نورو اوسنیو او تکراري مصارفو **پیسې هم ورکړئ:** کرایه، مالیات، د اوبو بېل، د برېښنا بېل، د ګاز بېل، د تیلیفون پیسې، د انټرنټ کڅوړه، د ټرانسپورټ کارت، ...
همدارنګه، د دې حساب په درلودو سره تاسو کولی شئ نورو ټولو بانکی خدماتو ته لاسرسی ومومئ، چې دا خدمات په هر بانک پورې تړلي دي.

### د عمومی حساب سره د تادیې یا د پیسو ورکولو لارې

د عمومی حساب په پرانېستلو سره د تادیې یا د پیسو د ورکړې ډېرې لارې شتون لري (په یاد ولرئ چې بانک مکلفیت نه لري چې دغه ټولې لارې د ستاسو خدمت ته وړاندې کړي): بانکي کارت، چېک ، د بانک څخه په اتومات ډول د پیسو اخېستل، د پیسو لېږد.

*اړین معلومات:*
*څه وکړئ چې هېڅ کله مو بانکی حساب په منفی کې ونه ساتئ (یعنی له پیسو څخه خالی یې مه ساتئ)، ځکه چې دا ممکن د دې لامل شي چې بانک مو له تاسو څخه د دې اړوند مصرف وغواړي.*
*همدارنګه، دا ممکن ستاسو د چیک د بې اعتباری ثبت هم شي. په بانکی حساب کې له پیسو پرته چېک ورکول ممکن ستاسو په وړاندې د* ***بانکی بندیزیونو پروسه*** *پیل کړی.*

د بانک له یوې څانګې او یا هم د اې ټي ایم ماشین څخه د نغدو پیسو په رواباسلو سره تاسو همدارنګ کولی شئ چې په نغدو پیسو تادیه وکړئ او یا یې مصرف کړئ.

### په خپل بانکی حساب کې د شته پیسو څارل

تاسو کولی شئ په خپل بانکی حساب کې شته پیسې د انلاین برنامې له لارې وګورئ (چې په مبایل او کمپیوټر دواړو کې د کارولو وړ ده) چې د بانکونو له لوری دا خدمات وړاندې کیږی او همدارنګه د خپل حساب د لنډیز بیان هم ترلاسه کولی شئ.

## څنګه کولئ شو بانکي حساب پرانېزو؟

### 3- اضافی معلومات یا سندونه چې بانک یې له تاسو څخه غوښتلئ شي.

ستاسو د هویت د معلومولو تر څنګ، بانک باید دا هم معلومه کړي چې تاسو ولې غواړئ حساب پرانېزئ او د څه لپاره غواړئ له بانکی حساب څخه ګټه واخلئ (شخصی موخو لپاره، مسکلی موخو لپاره او داسې نور).

دوی کولئ شي ستاسو د عوایدو ثبوت درڅخه وغواړي (د کار قرارداد یا تړون، د تنخوا پاڼه).

د بنه اداره کولو لپاره، دوی کولئ شي له تاسو وغواړي چې خپل د استوګنځی ثبوت وړاندې کړئ (د اوبو رسید، د تیلیفون رسید چې له ۳ میاشتو زوړ نه وي، د استوګنې تصدیق)

### 2- د دوسیې ثبتول

دا دوسیه له لاندې پاڼو څخه تشکیل شوي:

- د بانک له لوري د **بانکی حساب د پرانېستلو فورمه؛**
- یوه **رسمي پېژندپانه چې اعتبار** ولري (د ایډي کارت د صادرولو د تمدید سند یا تصدیق، د مثبت ځواب سند یا ثبوب او یا هم د استوګنې کارت یا ایډي کارت)

### 1- د بانک یوې څانګې ته تګ

د بانکی حساب د پرانستلو لپاره، کولی شئ خپل د خوښې بانک ته مراجعه وکړئ.

تاسو کولی شئ له بانک څخه د یوې فورمې غوښتنه وکړئ ترڅو یوه دوسیه جوړه کړئ او د بانکی حساب د پرانستلو غوښتنه وکړئ.
په ځینې بانکونو کې دغه غوښتنه په انلاین ډول هم ترسره کېدلی شي، البته د دوی په وېب پاڼه کې.

*اړین معلومات:*
*بانک کولئ شي تاسو ته د حساب بېلابېل ډولونه وړاندیز کړي چې ځیني یې شاید په پیسو وي.*
*د غوره شوي ډول سره سم، تاسو شاید دا اجازه ولرئ او یا هم نه، چې د بانک حساب مو منفي و اوسي یعنې له پیسو خالي وي.*

# ځنګه کولی شئ د بانکی حساب درلودلو له حق څخه برخمن شئ؟

یو بانک ممکن تاسو ته د حساب له پرانیستلو څخه انکار وکړي. په دې اساس، تاسو کولی شئ د فرانسې ملی بانک په وړاندې غوښتنه وکړئ او په وړیا ډول **د «بانکی حساب درلودلو» د حق** څخه برخمن شئ. په حقیقت کې، هر هغه کس چې په فرانسه رسمي ادرس ولرئ او کوم بانکی حساب و نه لري، او کوم چا ته چې یو **بانک د حساب له پرانیستلو څخه انکار کړئ وي،** کولئ شي د فرانسې له ملی بانک څخه وغواړي چې د نوموړي کس لپاره یو بانک وټاکي تر څو یاد کس یو حساب ترلاسه کړي.

### 1- د بانکی حساب د پرانیستلو د انکار ثبوت

**15 ورځې وروسته له دې چې د بانکی حساب د پرانیستلو غوښتنه مو ثبت کړه، او که کوم ځواب مو ترلاسه نه کړ، دا د انکار په معنی ده** او په دې اساس کولی شئ د فرانسې ملی بانک په وړاندې پرته له کوم بل لیکلی ثبوت غوښتنه وکړئ.

### 2- د دوسیې تشکیل

دوسیه مو باید له لاندې سندونو څخه تشکیل شوې وي:

**د حساب د پرانیستلو د غوښتنې ثبوت** چې له 15ورځو څخه یې زیات وخت تېر شوی وي (د ثبت شوي لیک د رسېدلو ثبوت او یا هم د لاس په لاس تسلیمولو ثبوت)

- **د بانکی حساب حق** اړونده فورمه، چې کولی شئ د فرانسې ملی بانک له وېب پاڼې څخه یې ترلاسه کړئ.
- **د هویت ثبوت** (د استوګنې کارت، د ایډي یا استوګنې کارت د صادرولو د تمدید سند یا تصدیق، د مثبت ځواب سند یا ثبوب، چې باید د اعتبار وړ وي.
- **د ادرس یا استوګنځي ثبوب** (د بېلګې په توګه د اوبو او ټیلیفون رسید چې له 3میاشتو څخه زوړ نه وي، او یا هم د کرایې ثبوت چې له 3میاشتو کم وي او یا هم د قوالې درلود)

*اړین معلومات:*
د استوګنې د جواز یا د کارت د غوښتنې د ثبت تصدیق یا سند او یا هم د مثبت ځواب تصدیق چې د اعتبار وړ وي داسې سندونه دي چې ستاسو هویت ثابتوي.

*نو په دې اساس، په معمول ډول یو بانک نه شي کولئ په دې دلیل ستاسو د بانکی حساب پرانیستلو څخه انکار وکړي چې تاسو ته د استوګنې جواز یا کارت نه دی راغلی.*

### 3- د فرانسې ملی بانک په وړاندې د غوښتنې ثبتول

- **په حضوری ډول د دوسیې تسلیمول:** تاسو کولی شئ د فرانسې ملی بانک د وېب پاڼې له لارې د لیدو یا ملاقات وخت واخلئ.
https://accueil.banque-france.fr
- **د ټیلیفون له لارې:** د 3414شمیرې سره اړیکه ټینګه کړئ
- **د پوست یا لیک له لارې په وړاندې ادرس:**
Banque de France
TSA 50120
75 035 PARIS CEDEX 01
- **د فرانسې د ملی بانک په وېب پاڼه کې په انلاین ډول**
https://accueil.banque-france.fr

### 4- د فرانسې ملی بانک ته د ځواب تمه یا انتظار

که چېرې په دوسیه کې ټول اړین سندونه موجود وي، د فرانسې ملی بانک په **یوه کاري ورځ کې یو** بانک ټاکي چې کولی شئ په کې خپل حساب پرانیزئ. هر کله چې یاد بانک ته دا خبر وروړسېده، دوی حد اکثر 3 ورځې وخت لري ترڅو خپل مشتري ته د اړینو سندونو لیست او ورسره د خپل مرستیال د اړیکو شمېرې ولیږي.

ټاکل شوی بانک همدارااز مسوولیت لري، چې د بانکی حساب درلودلو د حق په چوکاټ کې، ستاسو د هویت اړوند ځانه ترسره کړي او همدارااز ستاسو د حساب درلودلو هدف او موخې اړوند هم معلومات ترلاسه کړي. نو دوی ممکن د نورو سندونو غوښتنه هم وکړي چې شاید د فرانسې ملی بانک ته مو نه وي لیږلي.

که چېرې تاسو دغه ثبوتونه وړاندې نه کړل، بانک د حساب له پرانیستلو څخه انکار کولئ شي. هر کله مو چې دوسیه مکمله شوه، بانک اړ ده چې په 3 ورځو کې ستاسو حساب پرانیزي.

# بانکي اصطلاحات

**د کارت اړوند اعتراض یا شکایت**
دا یو داسې عمل ده کله چې یو کس د تیلیفون او یا د لیک یا پوست له لارې د خپل چېک یا بانک کارت د ورکېدو او غلا کېدو خبر ورکړي، تر څو وکولی شي د یو تقلبی کاروني مخنیوی وشي. تاسو کولی شئ د ورکېدو، غلا، او د تقلبي کاروني یا هم د بنکرپټ کېدو یا افلاس په صورت کې (د مالی چارو اړوند قانوني قضیې) ،اعتراض یا شکایت کولی شئ. که چېرې ستاسو اعتراض د توجیه وړ نه وي، نو تاسو سره به قانوني چلند وشي او د جرمی قانون په چوکاټ کې به درته سزا درکړل شي.

**د حساب د معلوماتو لنډیز**
داسې یو سند ده چې د بانکی حساب د ټولو عملیاتو یا راکړې ورکړو لنډیز بیانوي چې په یو ځانګړي وخت کې ترسره شوي وي، چې په عموم کې په میاشتني ډول وي. دا غوره ده چې تر ۱۰ کلونو پورې یې وساتئ.

**د پیسو لیږد**
داسې یو عمل ده د کوم له مخې چې یو پیرېدونکی خپل بانک ته امر کوي چې له خپل حساب څخه یو بل حساب ته پیسې ولیږي. دا لیږد یا هم موقت او یا دوامدار کېدلی شي.

**بانکی کارت**
د پیسو ورکولو یوه وسیله چې د کارت په شکل د بانک له لوری صادر شوی، او خپل څښتن ته د بانک سره د ترسره شوي تړون سره سم دا اجازه ورکوي چې هم تادیه ورکړي او هم له حساب څخه پیسې راوباسي. نور خدمات هم ورسره یوځای کېدلی شي لکه بیمه، همکاری او داسې نور.

**چېک**
یو عادی د تادیې وسیله د کومې له لارې چې د حساب څښتن خپل د بانک مشاور ته امر کوي چې ګټه اخېستونکی کس ته د هغه پیسې وسپاري چې په چېک کې لیکل شوي. بادې پیسې باید په حساب کې د چېک ډکولو او د ورکړې په وخت کې موجودې وي.

**نغدې پیسې**
دا اصطلاح د بانک د نغدو او وړو پیسو لپاره کارول کیږي.

**بانکی لږښتونه**
بانکی لږښتونه هغه لږښتونه دي چې یو پیرودونکی یې د یو کار د انجام لپاره، د یو محصول د ورکړې، او د خدماتو چمتو کولو لپاره ورکوي. دا لږښتونه ممکن د بانکي حساب په عملیاتو کې د بې نظمیو یا د تادیاتو پیښو سره هم تړاو ولري.

**بانکی بندیز**
هغه کس چې په حساب کې پرته له پیسو یو چېک صادر کړي او کوم کس چې په دې اساس د چېک د صادرولو اجازه نه لري.

**ځانګه**
د مشتریانو د استقبال ځای

**سود**
د بانک له لوری ترلاسه شوی سود، چې د بانکی حساب د خالی کېدو له امله رامنځته کیږي، چې محاسبه یې د پیسو د اندازې سره سمه کیږي، او همدارازد مودې او د سود فیصدې ته په کتو سره چې دې سره نور لږښتونه او کمېشن هم اضافه کیږي.

**د بانکي حساب تشوالی (منفی حساب) اجازه**
د بانک اجازه چې د دې په مرسته سره کولی شئ د حساب تشوالي یا منفی حساب اجازه ترلاسه کړئ چې اعظمی اندازه یې د مخکینیو شرایطو سره سم ټاکل شوي، په ځانګړې ډول د حساب او د تړون په موافقت نامه کې.

**بانک**
یو تاسیس چې د قانون لخوا د بانکي عملیاتو د ترسره کولو واک لري، یعني له خلکو څخه د پیسو ترلاسه کول، د کریډیټ راکړه ورکړه، او همدارنګه پیرودونکو ته د پیسو چمتو کول یا د پیسو ورکولو د وسیلو مدیریت. د «کرېډېټ تاسیس» او یا د «ساتنځای» اصطلاح هم کارول کیږي.

**د فرانسي ملی بانک**
ملي مرکزي بانک چې دنده یې د اروپا مرکزي بانک سره په اړیکه کې د تادیاتو سیستمونو مناسب فعالیت او د امنیت تضمینول دي. دا بانک د صاردونکی تاسیس رول هم بشپړوي. همداراز د کریډیټ موسسو بیا ځل تمویل هم کوي.

# ګټور لینکونه

- د عامه خدماتو د ادرس یا استوګنځي ثبوت:https://www.service-public.fr/simulateur/calcul/AttestationHebergement
- د فرانسي ملی بانک تر ټولو نیږدې ځانګې د پیدا کولو لپاره : https://www.banque-france.fr/la-banque-de-france/nous-connaitre/implantations-de-la-banque
- ساتنځای او د بانکی حساب پرانېستلو اړوند پاڼه Refugiés.infoد https://refugies.info/fr/demarche/6092ab8e6e6476001437f0b0
- د بانکي حساب پرانیستلو د غوښتنې د لیک نمونه:-https://www.banque-france.fr/system/files/2023-07/lettre_type-demande-ouverture-compte-lrar.docx
- اساسي خدمات articles D312-5 et D312-6 :د پیسو او مالي کوډ